**ليکوال: حميدالله عظيمی: 17 دلو 1390**



## اداری فساد

د مکافاتو او مجازاتو اصول په يوه اداره کې له طلايی اصولو څخه ګڼل کيږي هر نظام، که الهی يا بشری وی په خپلو اصولو کې مکافات او مجازات لري د بيلګې په توګه د اسلام په سپيڅلي دين کې د پرهيزکارانو لپاره د اجر او ثواب وړاندوينه شوی ده او هغه کسانو ته چې په غلطه لاره روان دي او د مستقيمې لارې څخه لري شوي دی، د هغوی لپاره د سزا وړاندوينه شوی ده.هره عالی يا عادی اداره به هغه صورت کې سالمه بلل کيدای شي چې د مکافاتو او مجازاتو کلتور پکې پلي وي، دا ډول ادارې د فساد څخه هم پاکې وي. اداري فساد چې په دې عصر کې په ډيريو بېوزلو هيوادونو کې شتون لري او د دغه هيوادونو خلک يې د چارو په مخوړنې کې له جدی ستونزو سره مخامخ کړی نو د مخنيوی لپاره جديدی مبارزې ته اړتيا ليدل کيږي کې چيرې دغه دولتونه يو هغه لوړپوړئ مقام چې په فساد کې غرق وي څارنوالي ته معرفی کړي او په عام مظهر کې يې محکمه کړي، نور به څوک دا توان ونلري چې بډه يا رشوت واخلی يا هم له قانون څخه سرغړونه وکړي. نو په کار ده چې ټولې ادارې د مکافاتو او مجازاتو کلتور عام کړلي شي.



کله چې د اداري فساد څخه بحث کيږي يو شمير زياد تعريفونه په اړه يې شوي دي. د ادارې او ټولنې پژندنو پوهانو په اند د فساد د لوړې کچې له امله چې نن په ادارو، نظامونو او دولتي او اجتماعی سازمانو کې په سترګو کيږي متفاوت نظرونه لري له دې جملې څخه د وبستر فرهنګ، اداري فساد، نامشروع امتياز ګڼي چې د دولتی کارکونکېو ته د دندې د سرغړونې لپاره ورکول کيږي چې دا سرغړونه د امتياز ورکونکيو په نفع تماميږي.

د دولتي کارکونکيو له دندې څخه دا سرغړونه چې په پايلې کې د شخصي نفعې او يا د نور نفعې سبب کرځي او په مقابل کې يې پيسې يا کوم بل شی لاس ته راوړي دا سرغړونې په لاندې ډول تر سره کيږي:

- د ادارې د قوانينو، مقراراتو او قواعدو څخه سرغړونه؛
- د قوانينو او مقرارتو تعبير او تفسير خپلو شخصي نفع ته ؛
- له دندې څخه سرغړونه، په دنده کې سستي ، او مراجعينو غوښتنو ته بی تفاوت پاتې کيدل؛
- په دنده کې تبعيض ښودل، يا هم سمتي قومي او ژبني تعلوقاتو ته لمن وهل؛
- فساد هغه پديده ده چې د دولتونو سره يو ځای منځته راغلي او د سازمانو او ادارو د پرمختګ سره سم فساد هم پراخ شوی دی.

فساد په هغو بی ثباتو سياسی دورو کې په لوړه کچه نمايان کيږي چې د يو هيواد نظام د جنګ له لارې بدلون ومومي په دغه وخت کې فساد هم خپل اړخ پراخ وي او مفسدين له موقع څخه په ګټې اخستو سره هر څومره چې کولاي شي په بډه اخستلو لاس پورې کوي او قانون د پښو لاندې کوي خپلې شخصي منافع نسبت د عام خلکو منافعو څخه لوړ ګڼي.

ځنې پوهان فساد پر دريو ډولو ويشي مالي يا اقتصادي، سياسي او اداري او په افغانستان کې مالی او اداري فساد په لوړه کچه په سترګو ليدل کيږي

الف: د مالی او اقتصادی فساد ډولونه

۱ـ بډه يا رشوت: هغه مالی يا قيمتي توکي دي چې د غيرقانونی غوښتنو لپاره فاسد شخص ته ورکول کيږي چې نن ورځ د نړۍ په مختلفو هيوادونو کې دولتی او غير دولتی کارکونکی د بډه يا رشوت اخستلو باندې ککړ دي.

۲ـ اختلاس: د عامه دارايی څخه شخصی نفع ګټه پورته کول او يا هم د دولتی اجناسو، ځايونو او مالی امانت کښې خيانت کول. چې وروسته له بډې يا رشوت څخه د نړۍ په ګودګود هيوادونو کې عموميت لري.

۳ـ مالی فساد: دا ډول فساد معمولا په قراردادي معاملو، امتيازي خرڅلاو او د قراردادونو لپاره خپل او خپلوان معرفی کول او په ځان باندې د خدمت مهر وهل، تر عنوانو لاندې تر سره کيږي چې دا ډول فساد په عموم ډول د بهرنۍ سازمانو، تمويل

کونکیو، داخلی او بهرني انجوګانی چې د ځینو کسانو او موسساتو سره شریک دي او د امیتاز ورکولو او لویو پروژو ورکولو له لارې اجرا کیږي د مثل په توګه یو لویو پروژه کله چې لومړی کس ته ورکول کیږي ارزښ یې یو میلیونو دالر ته رسیږي او ورسته له هغې چې لاس په لاس شي ورستي کس ته دا پروژه په دو زره دالر ته رسیږي چې اته سوه زره دالر نور حیفو میل کیږي.

یو ډول بل مالي فساد د بودیجه لټول په مستقیم شکل د وزارتونو او دولتی ادارتو له لورې دي چې هغوي ته دا صلاحیت ورکوي چې پرته له کومې ارزیابي او نظارته یې مصرف کړي

۴ غضب: د فساد یو بل ډول دي چې دا ډول فساد د زورور کسانو له لورې د ځمکو، اموالو، جایدادونو، باغونو او همدارنګه د دولتی او عامه ځمکو غضبول دي چې په حکومت د مستقیم او غیر مستقیم قدرت لرونکیو له لورې غضب کیږي.

ب ـ سیاسی فساد

سیاسی فساد د قدرت تقسیم ولو او د څوکیو ویشل د غنیمت په حیث، د خپل طرفدار خلک په لوړو څوکیو کې تعین ول، پرته له تخصص، کاری تجربې، تقوا، تعهد هیواد ته، سیاسی روابط په پام کې نیول په مخفی ډول، ورستي دا چې په حکومت کې د ګډون تر عنوان لاندې سهمیه ورکول او سهمیه اخستل، دا ټول هغه موارد دي چې سیاسی فساد بلل کیږي هغه دولت چې د عام خلکو او مدني ټولنو څخه ځان ساتي او هغوي په پام کښې نیسي په دې پوه شي چې دا دولت په سیاسی فساد باندې ککړ دي او کې موږ په دقیق ډول د سیاسی فساد په اړه معلومات راغونډ کړو، نو د سیاسی فساد اړخونه غورا پراخ دي

ج ـ اداری فساد

دا ډول فساد پر فقیرو هیوادونو کې ډیر زیات په سترګو لیدل کیږي او بیلابیل ډولونه لري

ـ د اداری جوړښت فساد، هغه اداري چې جوړښت یا تشکیلاتی ساختار یې د تخصص او ظرفیتو لرونکیو کسان څخه جوړه نوي او لیاقت لرونکي کسان په دندو ګمارل شوي نه وي پکښې، حمتآ په داسې اداره کښې اداري فساد شتون لري. بل دا چې څو ډول اداري په هیواد کښې فعالیت کوي او د دندو له مخې سره یو شان دي دولتي اداري، د ملل متحد دفترونه، انجوګاني او همداسې نور موسسات چې د بهرنیو هیوادونو له لورې حمایه کیږي، فعالیت کوي. چې دا ټول هغه موارد دي چې په یو ټولنه کښې اداري فساد رامنځته کوي.

ـ په لوړو څوکیو د نا اهل کسان ګمارل د قومی پژندنې پر اساس کیږي، د لوړو څوکیو مقامات د یو ارګان څخه بل ارګان ته چې اصلا د کاری له لحاظ ډیر سره فرق لري تبدیلو، بل دا چې ملکي دندې سیاسی، قومي، تنظیمی، سمتي او ژباني کول دي چې په لوړه کچه اداري فساد ګڼل کیږي.

د دسپلیني ضوابطو تر پښو لاندې کول، د اداری سلسلو مراتب نه مراعات کول، د مجازاتو او مکافاتو تطبیق نکول، د جرایمو څخه سترګي پټول، سرغړوني، خپل سرې، سؤ استفاده، نظارت نکول او خلکو ته د کارونو په اړه ګزارش نه ورکول هغه څه دي چې د اداری فساد ته یې پرختیا ورکړې ده. د ټول مواردو په نظر کې نیولو سره ویل شو چې فساد فساد دی نو د منځ وړلو لپاره یې جدي مبارزې ته اړتیا لیدل کیږي.

